# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

16قوس _سال 1402



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان | صفحه


ننګرهار، شيخ مصري د مهاجرينو ښارګوټي کې د څاه ګانو ويستلو پرانسته وشوه ---------------------------------- 1

سرپرست وزارت امور مهاجرين، با سران اقوام مختلف ولایت ننگرهار دیدار کرد ---------------------------------- 2

د وزارت مسلکي مرستيال غزني ولايت ته سفر وکړ ---------------------------------------------------------------- 3

رییس عودت وزارت، با متخصص حالات بشری سازمان بین المللی مهاجرت دیدار نمود ------------------------------ 3

هلمند ولايت کې د ملکيتونو د حقوقي او مدني اسنادو د پوهاوي پروګرام تر سره شو -------------------------------- 4

برای 100 خانواده در ولایت جوزجان کمک صورت گرفت --------------------------------------------------------- 5

د ایران څخه له زرو زیات افغان مهاجر په یوه ورځ کې په خپله خوښه او جبري توګه هېواد ته راستانه شوي ------ 6

صد ها مهاجر ازپاکستان به وطن برگشت نمود ------------------------------------------------------------------ 6

وزارت امورمهاجرین : رسیدگی به عودت کنندگان جدید دراولویت این نهاد است ------------------------------------ 7

توافق میان ایتالیا و البانیا: تنها مهاجران نجات یافته در آب‌های بین المللی به البانیا انتقال داده خواهند شد ----------- 8

آيرلېنډ کې د سرپناوو کمښت ـ مهاجرو ته ښېمي ورکول کيږي ------------------------------------------------- 9

څېړنه: يو ميليون مهاجر په رواني ستونزو اخته دي ---------------------------------------------------------- 10

آلمان ـ مرستندويه سازمانونو د پناه غوښتنې د سياست سختول غندلي دي ---------------------------------------- 11

# متن کامل اخبار

## ننګرهار، شیخ مصري د مهاجرینو ښارګوټي کې د څاه ګانو ویستلو پرانسته وشوه

د وزارت ویب سایت



**د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو سرپرست الحاج خلیل الرحمن حقاني په لاس د قاري سعید خوستي خیریه بنسټ له لورې د ننګرهار ولایت، جلال اباد ښار اړوند، شیخ مصري د مهاجرینو ښارګوټي کې د پاکو اوبو د برابرولو په موخه د څاه ګانو ویستلو پرانسته وشوه**

**د یاد بسنټ مشر قاري سعید خوستي په وینا، اوسمهال په څلور څاګانو کار شروع کېږي، چې د ټانکۍ او سولر سیسټم سره د هرې څاه لپاره ۲ لکه افغانۍ لګښت په پام کې نیول شوی او په راتلونکې کې به د نورو څاګانو سربېره په نورو پراختیایي پروژو کې هم ونډه واخلي**

**د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر د قاري سعید خوستي خیریه بنسټ د یاد اقدام هرکلی او مننه وکړه او په ټولو خیریه بنسټونو او ملي تجارانو یې غږ وکړ، چې د راستنېدونکو د ستونزو اساسي حل لپاره ورته اقدام وکړي**

**د مهاجرینو چارو وزیر د یاد ښارګوټي د اوسېدونکو ستونزې هم واورېدې او د حل ډاډ یې ورکړ**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

## سرپرست وزارت امور مهاجرین، با سران اقوام مختلف ولایت ننگرهار دیدار کرد

ویب سایت وزارت




الحاج خلیل الرحمن حقانی، سرپرست وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان در سفرخود به ولایت ننگرهار با علما، اقشار مختلف مردم و سران اقوام آن ولایت در سالن جلسات ریاست سرحدات، اقوام و قبایل دیدار کرد.

وزیر امور مهاجرین طی سخنانی گفت: خدمت به مردم وظیفه دینی و شرعی ماست، با استقرار نظام اسلامی، جان و مال و ارزش های اسلامی و ملی افغان ها محفوظ مانده است، و به هیچ کس اجازه ندهید که با تفاوت قومی، فرهنگی و زبانی این ملت را ازهم جدا نماید.

آقای حقانی گفت: برای بازگشت مهاجرین برنامه داریم تا در تمام مراحل زندگی به آنها کمک کنیم و زندگی بهتری برای آنها فراهم کنیم.

وی  بر وحدت بین ملت ها تاکید کرد و افزود که ما با هم برای آزادی کشور و استقرار نظام اسلامی مبارزه نموده ایم و اکنون وظیفه مشترک ما حفظ آن است.

سران اقوام  ولایت ننگرهار از رهبری و اقدامات خوب امارت اسلامی در زمینه مهاجرین قدردانی کردند،آنها اطمینان دادند که میزبان برادران مهاجر خود خواهند بود و به هر نحو ممکن به آنها کمک خواهند کرد.

در این دیدار سران اقوام متذکره  مشکلات خود را با سرپرست وزارت امور مهاجرین نیز شریک ساختند.

سرپرست وزارت اطمینان داد که مشکلات را با سازمان های مربوطه در میان گذاشته و برای حل آن تلاش خواهد کرد.

## د وزارت مسلکي مرستیال غزني ولایت ته سفر وکړ

د وزارت ویب سایت




**د مهاجرینو او راستنېدونکو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشداوډ لنډ مهاله استوګنې کمېټې رئیس د لیندۍ په ۱۲مه غزني ولایت ته سفر وکړ.**

**ښاغلي راشد د غزني ولایت له مسؤلینو سره لېدنه وکړه او له پاکستان څخه د اجباري راستنېدونکو د وضعیت ارزونه یې وکړه.**

**ده همدارازله اړونده مسؤلینو څخه غوښتنه وکړه، تر څو اجباري راستنېدونکو ته د مرستو رسول خپل لومړیتوب وګرځوي او دوي ته د رسېدنې په موخه همکارو ادارو ته لازمې اسانتیاوې برابرې کړي.**

**ښاغلي راشد همدارنګه ددې ولایت له امنیه قوماندان سره ناسته لرله، هغه له اړونده ادارو سره د اجباري راستنېدونکو د امنیت د ټېنګښت په اړه له خپلې همکارۍ ډاډ ورکړ.**

## رییس عودت وزارت، با متخصص حالات بشری سازمان بین المللی مهاجرت دیدار نمود

ویب سایت وزارت



**مولوی شکر الله شاکر، رییس عودت و ادغام مجدد وزارت مهاجرین با خانم فاتو جاه متخصص حالات بشری عاجل و بعد از بحران و خانم لورین مکارتی هماهنگ کننده راه حل های دایمی سازمان بین المللی مهاجرت در دفتر کارش دیدارنمود.**

**در این دیدار در مورد ارایه خدمات و فعالیت های بیشتر آن سازمان برای خانواده های برگشت کننده و بیجاشده درآینده بین طرفین بحث شد.**

**رییس عودت وزارت از فعالیت های آن سازمان در سرحدات کشور ستایش نموده و از پلان های آینده وزارت در ایجاد شهرک ها، رسیده گی بهتر و وظایف کمیته های موظف کمیسیون عالی رسیده گی به حل مشکل برگشت کننده گان اجباری معلومات داد.**

**وی گفت، با هماهنگی و تشریک مساعی بیشتر نهاد های همکار برگشت کننده گان اجباری از خدمات بهتر بهره مند شده اند.**

**آقای شاکر افزود، هدف ما ایجاد هماهنگی های بشری در محیط کاری جهت رسیده گی بهتر به حل مشکلات میباشد و در این راستا اولویت به کسانی است که جدیداً برگشت نموده اند.**

**خانم فاتو جاه گفت: این سازمان در بخش های مختلف مصروف فعالیت است، هدف ما از تدویر جلسه امروزی اخذ اطلاعات مورد ضرورت در بخش های مختلف بوده ، تا باشد مطابق به آن پلان ترتیب داد، وی خواهان شریک سازی پلان های آینده وزارت نیز شد.**

**جانبین بر هماهنگی های بیشتر در آینده تاکید نمودند.**

**دراین دیدار نماینده های ریاست های دفتر، حمایت حقوقی و پلان نیز حضور داشتند.**

## هلمند ولایت کي د ملکیتونو د حقوقي او مدني اسنادو د پوهاوي پروګرام تر سره شو

د وزارت ویب سایت



**د هلمند ولایت د مهاجرینو چارو د ریاست له لوري د لیندۍ په ۱۴مه په دې ولایت کې راستنېدونکو او بې ځایه شوو له پاره د ARDAمؤسسې په همکارۍ د ملکیتونو د حقونو او مدني اسنادو د ګټو په اړه د پوهاوي پروګرام جوړ شو.**

**یاد پروګرام ددې ولایت د مهاجرینو د ریاست په ودانۍ کې په لار اچول شوی وو او یو شمېر راستنېدونکو او بې ځایه شوو په کې ګډون درلود.**

**د پروګرام په جریان کې د مهاجرینو ادارې استازي د پېژندپاڼو، نکاح خطونو او نورو مدني اسنادو د اخېستلو او د هغوي د ګټو په اړه ګډونوالو ته معلومات وړاندې کړل.**

**له دې پروګرام څخه موخه د راستنېدونکو او بې ځایه شوو هڅونه وه، تر څو له اړونده  دولتي ریاستونو څخه خپله پېژندپاڼه،نکاح خط او نور مدني اسناد تر لاسه کړي.**

**د پروګرام په پای کې ګډونوالو ته ۴۰۰ افغانۍ هم ووېشل شوې.**

**په پام کې ده چې دغه پروګرام په راتلونکو ورځو کې سلګونه نورو کسانو ته هم په دې ولایت کې  په لار واچول شي.**

## برای 100 خانواده در ولایت جوزجان کمک صورت گرفت

ویب سایت وزارت



**ریاست امور مهاجرین ولایت جوزجان از توزیع البسه زمستانی برای 100 خانواده برگشت کننده اجباری درآن ولایت به تاریخ 14 قوس خبرداد.**

**به هریک خانواده یک تخته کمپل و یک بسته پوشاک زمستانی شامل 7 قلم به همکاری موسسه یونسف بود که با حضور نماینده ریاست مهاجرین توزیع گردید.**

## د ایران څخه له زرو زیات افغان مهاجر په یوه ورځ کې په خپله خوښه او جبري توګه هېواد ته راستانه شوي

د وزارت ویب سایت

**د ایران څخه یو زرو ۸۳۴ تنه افغان مهاجر دلیندۍ په۱۴مه دهرات د اسلام قلعې له لارې هېواد ته راستانه شوي.**

**د اسلام قلعې د سرحدي آمر په خبره په یادو راستنېدونکو کې کورنۍ او مجردان شامل وو چې له ډلې یې۳۵۰ تنه د مرستو په موخه د مهاجرت نړۍ وال سازمان ته ور وپېژندل شول، چې ورسره د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې تر سره شوې.**

**همدارنګه ۴۷ کورنیو ته ۱۰ زره افغانۍ او ۵۴کورنیو ته چې ۱۱۲ تنه کېدل په وړیا توګه یو یو سیم کارت په سرحد کې د مؤظفو کمېټو له لورې وېشل شوي دي.**

**همدارنګه ۳۰۲ تنه نور راستنېدونکي له روغتیایي چوپړتیاوو هم برخمن شوي دي.**

## صد ها مهاجر ازپاکستان به وطن برگشت نمود

ویب سایت وزارت

**ریاست امور مهاجرین ولایت ننگرهار از برگشت 572 مهاجر افغان مقیم پاکستان، به تاریخ 14 قوس خبرداد.**

**به اساس معلومات آمریت سرحدی تورخم ولایت ننگرهار 124 خانواده که شامل 572تن بودند، طور جبری از پاکستان برگشت نمودند و بعد از ثبت دراداره امور مهاجرین جهت کمک به دفاتر کمیشنری عالی ملل متحد و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.**

## وزارت امورمهاجرین : رسیدگی به عودت کنندگان جدید دراولویت این نهاد است

آژانس اطلاعاتی باختر



**مولوی شکر الله شاکر رییس عودت و ادغام مجدد وزارت مهاجرین امروز با خانم فاتو جاه متخصص حالات بشری عاجل سازمان بین المللی مهاجرت دیدارکرد.**
**عبدالمطلب حقانی سخنگوی وزارت امور مهاجرین دراین باره به آژانس باختر گفت :در این دیدارطرفین در مورد ارایه خدمات و فعالیت های بیشتر آن سازمان برای خانواده های برگشت کننده و بیجاشده درآینده بحث شد.**
**شاکر از فعالیت های آن سازمان در سرحدات کشور ستایش نموده و از پلان های آینده وزارت در ایجاد شهرک ها، رسیده گی بهتر و وظایف کمیته های موظف کمیسیون عالی رسیده گی به حل مشکل برگشت کننده گان اجباری معلومات داد..**
**وی گفت، با هماهنگی و تشریک مساعی بیشتر نهاد های همکار برگشت کننده گان اجباری از خدمات بهتر بهره مند شده اند.**
**موصوف همچنان گفت: هدف ما ایجاد هماهنگی های بشری در محیط کاری جهت رسیده گی بهتر به حل مشکلات میباشد و در این راستا اولویت به کسانی است که جدیداً برگشت نموده اند.**
**خانم فاتو جاه گفت: این سازمان در بخش های مختلف مصروف فعالیت است، هدف ما از تدویر جلسه امروزی اخذ اطلاعات مورد ضرورت در بخش های مختلف بوده ، تا باشد مطابق به آن پلان ترتیب داد، وی هچنان از رهبری وزارت امور مهاجرین خواست که پلان های آینده وزارت را با این نهاد شریک کند.**

## توافق میان ایتالیا و البانیا: تنها مهاجران نجات یافته در آب‌های بین المللی به البانیا انتقال داده خواهند شد

مهاجرنیوز




دولت ایتالیا لایحه‌ای مربوط به توافق انتقال مهاجران به البانیا را تصویب کرد. بر اساس توافق، قرار است تا جون ۲۰۲۴ ایتالیا دو مرکز برای پذیرایی و بازداشت مهاجران نجات داده شده از مدیترانه رادر البانیا ایجاد کند .

شورای وزیران حکومت جیورجیا ملونی، نخست وزیر راستگرای ایتالیا روز سه شنبه ۵ دسمبر، لایحه توافق میان این کشور و البانیا در مورد انتقال مهاجران را تصویب کرد.

توافق میان روم و تیرانا در ماه نومبر امضا شده بود و بر مبنای آن ایتالیا مهاجران نجات داده شده از مدیترانه را به البانیا منتقل می‌کند.

به گزارش روزنامه ریوبلیکا، مقامات ایتالیایی گفته‌اند که هزینه سالانه انتقال و مدیریت امور مهاجران در البانیا سالانه به ۲۰۰ میلیون یورو خواهد رسید و دولت ایتالیا آن را به عهده خواهد گرفت. لایحه تصریح می‌کند که ظرفیت ماهانه مرکز پذیرش مهاجران حداکثر ۳۰۰۰ نفر خواهد بود.

اعلام توافق میان روم و تیرانا درباره انتقال مهاجران نجات داده شده از مدیترانه با نگرانی‌هایی از سوی اتحادیه اروپا در مورد نقض حقوق مهاجران و پناهجویان روبرو شده بود.

بیشتر بخوانید :کمیسیون اتحادیه اروپا معاهده مهاجرت بین ایتالیا و البانیا را بررسی می کند

حال لایحه تصریح می‌کند که تنها مهاجرانی که توسط کشتی‌های ایتالیایی در آب‌های بین‌المللی نجات داده می‌شوند، مستقیماً به البانیا منتقل می‌شوند .به این ترتیب، به نظر می‌رسد که مهاجران نجات داده شده توسط سازمان‌های نجات مهاجران در این توافق شامل نیستند.

لایحه تصویب شده همچنین می‌گوید که رابطه میان مهاجران بازداشت شده در مرکز جادر در البانیا و وکیلان آن‌ها از طریق ویدیو تامین خواهد شد و جلسه تصمیم گیری قاضیان دادگاه در روم در مورد سرنوشت پناهجویان نیز ویدیویی خواهد بود.

قرار است لایحه بعدتر در پارلمان مورد بررسی قرار بگیرد.

امسال بیش از ۱۵۲ هزار مهاجر وارد ایتالیا شده‌اند

تازه ترین آمار نشان می‌دهند که از آغاز سال ۲۰۲۳ تا ۵ دسمبر بیش از ۱۵۲ هزار مهاجر وارد ایتالیا شده‌اند. این رقم در سال گذشته طی همین مدت بیش از ۹۵ هزار نفر بود. در ماه سپتمبر هزاران مهاجر در مدت کوتاهی وارد جزیره لامپدوسا شدند.

در همین زمینه :ایتالیا: طی ۴۸ ساعت بیش از ۶۰۰۰ مهاجر وارد لامپدوزا شدند

دولت ایتالیا تلاش دارد با سختگیری‌های اعلام شده از زمان به قدرت رسیدن جیورجیا ملونی در سپتمبر ۲۰۲۲ با مهاجرت غیرقانونی از طریق مدیترانه، مبارزه کند.

در پایان ماه سپتمبر امسال دولت اعلام کرد که پناهجویان رد شده برای جلوگیری از بازداشت واخراج شان از ایتالیا، باید مبلغ حدود ۵ هزار یورو ضمانت بپردازند.

همزمان مقامات شرایط پذیرایی از پناهجویان زیرسن و بدون همراه را دشوار تر کردند و پیشتر از آن نیز، کشتی‌های متعلق به سازمان‌های نجات در مدیترانه را برای مدتی در بنادر متوقف ساختند.

در تازه ترین مورد، مقامات ایتالیایی کشتی نجات هومانیتی را که ۴۶ مهاجر را از آب‌های ساحلی لیبیا نجات داده است، در بندر کورتونه متوقف کردند. روم می‌گوید که کشتی نجات مانع دستگیری مهاجران توسط نگهبانان ساحلی لیبیا شده و جان مهاجران را به خطر انداخته است. مسئولان کشتی این اتهام را رد کرده و علیه دولت شکایت کرده‌اند.

بیشتر بخوانید :ایتالیا سه کشتی نجات مهاجران را برای ۲۰ روز متوقف کرد

## آیرلېنډ کې د سرپناوو کمښت ـ مهاجرو ته خېمې ورکول کېږي

مهاجرنیوز

په آیرلېنډ کې د سرپناوو د کمښت له کبله اوس بعضو مهاجرو ته خېمې او د بېډېدو کڅوړې ورکول شوي دي.

د آیرلېنډ هیواد حکومت و فرانس پرېس خبري آژانس ته تائید کړېده چې بعضو مهاجرو ته يې خېمې او د بیډېدو ځانګړې کڅوړې ورکړي دي. دا له دې کبله چې حکومت وايي په دغه هیواد کې د سرپناوو سخت کمښت رامنځته شوی دی. حکومت ویلي دي: «زموږ د تولو هڅو باوجوده د ادغام اداره دمګړی د سرپناوو د غیرعادي کمښت سره مخامخ ده او نشي کولای تولو پناه غوښتونکو ته د سرپټي ځای برابر کړي«.



Website: *https://morr.gov.af*

Twitter: *https://twitter.com/MoRRAfg*

Facebook*: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

د سرپناوو د ځايونو تر څنګ په ياد هيواد کې مهاجرو لپاره د نظافت ځايونه لکه توشنابونه او د غسل لپاره د اوبو ځايونه هم کمیابه شوي دي.

له دې مخکې د ادغام وزير، رودريک او ګورمن خبرداری ورکړی و چې پناه غوښتونکي به په راتلونکو ورځو کې »له سرپناوو څخه محرومه شي، ولې چې لومړيتوب و کورنيو ته ورکول کيږي «دنوموړې دا څرګندني د يکشنبې په ورځ (د ۲۰۲۳ کال د دسمبر دريمه نېټه ) وکړې.

دمګړی د حکومت د معلوماتو له مخې تر ۱۰۰ زرو څخه زيات د اوکراين مهاجر او شاوخوا ۲۶ زره نور مهاجر ثبت دي. ويل شوي چې دولت و ۷۰ زرو اوکراينيانو ته سرپناوې ورکوې. دا هغه مهاجر دې چې د روسيې لخوا پر اوکراين د بريد وروسته آيرلېنډ ته مهاجر شوي دي. د آيرلېنډ د مرستيال لومړي وزير, مايکل مارتين پر سرپناوو پر شته والې باندې د جګړو اغېز «ډېر لوی «بللی دی.

خو په آيرلېنډ کې د سرپناوو د کمښت ستونزه نوې نه ده. په جون مياشته کې لا د دغه هيواد د پناه غوښتونکو د ملاتړ شورا دغې ستونزې ته اشاره کړې وه. په ټوليزه توګه د اوسېدو د ځای د کمښت له کبله او د قيمتونو د جګېدلو له کبله په ټولنه کې د مهاجرو په وړاندې تحفظات هم زيات دي.

## څېړنه: يو ميليون مهاجر په رواني ستونزو اخته دي

مهاجرنيوز



د يوې څېړنې له مخې په جرمني کې شاوخوا يو ميليون پناه غوښتونکي له غمجنو حالتو وروسته له سخت فشار او ژور خپګان سره مخامخ دي. خو په ډېرو مواردو کې يې درملنه نه کيږي.

لکه څنګه چي د **Correctiv** په نوم څېړنيزي شبکي د چهارشنبې په ورځ رپوټ ورکړی دی، د من هايم او بيليفيلد پوهنتونونو د څېړنو نتايج ښيي چي په آلمان کي ۳۰ سلنه پناه غوښتونکي له سخت فشار يا ستريس او ۴۰ سلنه يې په ډيپيريشن اخته دي. له هغوي څخه يې يوازې يوه برخه رواني درملنه ترلاسه کوي.

ياده شبکه خبر ورکوي چي دغه ارقام د څو مياشتني پلټنو په نتيجه کي په لاس راغلي دي. په دې ډول دا يو سيستماتيک شکايت څرګندوي چي د اغيزمنو کسانو ادغام سخت ستونزمن او يا هم له خنډ سره مخامخ کوي. په ځينو مواردو کي دا کار يو جدي امنيتي خطر هم رامنځته کوي.

د مثال په ډول چارواکو د بروکشتيت په قضيه کي ماته وخوړه او وې نه سوای کولای د يوه پناه غوښتونکي احتمالي خطر تشخيص کړي .نوموړي فلسطيني په جنوري مياشت کي د شليسويګ هولشتاين په يوه سيمه ايز ريلګاډي کي دوه کسان په چړو ووهل او نور کسان يې سخت ټپيان کړل.

د نوموړي څېړنيزي شبکې په حواله، مخکي له دې پيښې نوموړي د رواني درملنې له پاره خپله عريضه وړاندي کړې وه. په زياترو پيښو کي اغيزمن کسان تر ټولو دمخه د خپل ځان له پاره هم خطر پيښوي: ډيري يې ځان وژنه کوي، ځيني يې د ناروغيو له امله خپل کوچنيان له پامه غورځوي.

د دغو پلټنو له مخي د دې کار علت دا دی چي ښارونه، ايالتونه او ټولني ډېري لږ پيسې په اختيار کي لري، تر څو په پناه غوښتونو کي دا ډول رواني ستونزې تشخيص او د هغوی درملنه وکړي. په تيره بيا په ايالتونو کي د بودجې کسر ډير لوی دی.

هغوی د پناه غوښتونو د منلو د لومړنيو مرکزونو په توګه د اروپايي ټولني د قوانينو له مخي د دې مسووليت لري چي ټول نوي راغلي کسان له صحي پلوه په اساسي ډول وارزوي او همدارنګه په تيره بيا له رواني پلوه هم.

خو له فدرالي ايالتونو څخه د **Correctiv** يوې پوښتنه دا معلومه کړه چي دا ډول ارزونې په هيڅ ډول نه دي ترسره سوي. همدارنګه په ډيري سختۍ سره د هغوی د درملني له پاره ځايونه هم موجود دي.

## آلمان ـ مرستندويه سازمانونو د پناه غوښتني د سياست سختول غندلي دي

مهاجرنيوز




په آلمان کې د مرستندویه سازمانونو یوې سراتحادیې په کلکه سره د دغه هیواد د حکومت د پناه غوښتنې په تړاو سیاست باندې نیوکې کړې دي.

د **(awo)** په نوم په آلمان کې د مرستندویه اتحادیو سرسازمان په دغه هیواد کې د پناه غوښتنې په تړاو سیاست سختول غندلي دي. د یاد سرسازمان عمومي رئیس، اولغیش شنایډر او په همدې شان یې بلې مشرې، کلاوډیا ماندریش د آلمان د ایالتونو د کورنیو چارو د وزیرانو کانفرانس ته یو لیک لیږلی دی. په یاد کانفرانس کې د آلمان د مرکزي حکومت د کورنیو چارو وزیره، او د آلمان د ټولو فدرالي ایالتونو د کورنیو چارو وزیران ګډون کوي. دغه کانفرانس نن د چهارشنبې په ورځ (د ۲۰۲۳ کال د دسمبر ۶ نېټه) دایرېږي.

د کاتولیکي خبري آژانس په یو راپور کې راغلي چې د مرستندویه سازمانونو د سراتحادیې د مشرانو په لیک کې راغلي دي چې د مهاجرو د شمېر زیاتېدنې د آلمان پر مرکزي حکومت، ایالتونو، ښاروالیو او همدا شان پر مرستندویه سازمانونو فشارونه راوړل او هغوی یې د ننګونو سره مخاخ کړل. په دغه لیک کې راغلي دي چې یاد موضوع «د پناه غوښتنې او مهاجرت د مباحثو د ښکاره سختېدو هم لامل شوه.» ویل شوي اوس دغه سختېدنه د دې لامل شوې چې د آلمان حکومت د نوو قوانینو په مسودو او د مرکز او ایالتونو پر فیصلو اغېز وکړي.

شنایډر او ماندریش د پناه غوښتنې په تړاو سیاست کې «پر اخراج تمرکز» غندلی دی. هغوی لیکلي چې «اخراجونه د نورو اثراتو تر څنګ د دې لامل کېدلای شي چې اخراج شوي انسانان بیا په رواني توګه زخمي شي او د خپل پاته ژوند تر پای پورې د بیرې او د نورو انسانانو په وړاندې د بې اعتمادۍ او د نه مسؤنیت د احساس ښکار شي.» د دې تر څنګ یې د نقدي مرستو پر ځای د کوپین په شان نظام رامنځته کولو هم نیوکې کړې دي. هغوی د بېرولو په خاطر د مرسته ترلاسه کونکو سره تر سره کېدونکو مرستو کې د کمښت راوستل هم غندلي دي.